پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل»

---

## دګران هیواد افغا نستا ن دآزادي دترلاسه کولو دسلمی کالیزي په اړین

****

ته خو په تا ریخ کي حما سي اوستر قصي لري
پا تی له نیکونو خپل د توري نښا ني لري
ته نه یی بی وزله خوارکي د پنجا بي په شا ن
ته په دي وطن کي د لعلونو خزاني لري
ته د آزادی او سرلوړي ژوندي تاریخ یي
ته د ا ستعما ر په ما تید و «اکبر» بچي لري
تا غیرت ښود لي انګریزان ته د میوند په جنګ
هلته په میوند کي دایوب خا ن ښه افسا نی لري
هلته چي افغا نا ن پرانګریزانوکلک حملی کول
څنګ کی د ملالی د خولی پاتی خوږ تپی لري
که په میوند کي شهید نه شویي
خدای ړو لالیه بی ننګی ته دی نه سا تمه
تا ته د انګریز د مکنا ټن وژل په یاده وي
ته چي د« اکبرخان» دتمانچي کلک ضربی لری
ستا نیکونه دری واری انګریزپه ګونډه کړي دی
ته **داماں ،اکبر ،میر مسجدی** ښه کارنا مي لري
ته ددی وطن په غیرتي زانګو لوی شوی یي
مه با سه له یا ده دی چي ته غا زی ادي لري

توره د خوشحال مغل پرضد په یاد کی وساته
یا د پیر روښان په څیر د پوهي ګنجینی لري
هلته ستا په بلخ کی د نړی ستر عالمانو
د طبیب سینا ،مولانا دعلم او پوهی خاطری لري
هلته په غزنی کي البیرونی جغرافیه دانه دی
یا چي په هرات کی د جامی لوړ منا ری لری
ستا د دی وطن په هر لویشته د غیرت چیغی
په هره ساحه او هر بانډه کی ډک اسری لري
ستا میلمه پالني د نړی په تاریخونو کي
ته په دغه برخه له هرچا نه لوړ شملی لري
هرڅومره چي ولیکم صفت دی نه خلاصیږی هیڅ
ته د حماسو او د میړانو سجری لري
سر ټیټول نوروته فرهنګ کی دی پردی ښکا ری
ته دغیرتونو او ویاړنی افغانی« امان» بچی لری
هغه چی عید ګاه کی د انګریز سفیر ته وویل
ملک می نن آزاد دی- تاریخی ته خطا بی لري

***

څه دربا ندی راغی چی غیرت درځنی هیره شو
نن چی اوس په څنګ کی د ا شرارو توطیی لري
خپله روزه خوری خو پر تا باندی روزه نیسی
دا سی منافق چی داشرار سره جوړه لری
ولی ورته ګوري چی وطن دی لا خرابه کړی
ته چی په وطن کي غیرتی ډیر پرګني لري
لاس دی لر اوبرو افغا نا نو سره ټینګه کړه

*ستا ټول اولس له تا هسې ډېر هيلې لري*

*توره د خوشحال واخله غليم له ملکه وباسه*

*زر وياړبه ستا شي چې **مل** غوند دوعا ګويې لري*

******** **جرمنی 2019-07-07***